مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۰/۰۱/۱۹

# منۍ، پاڼي

## موږ او ښاروي

### (د اوښلنو سترګو یوه خاطره)

**دا د شلو کلونو مخکې خبره ده، دا یاداشتونه ما هغه وخت لیکلي دي، چې یوه ډله پناه غوښتونکي افغانان، د یوه اروپایي هېواد د برید پر کرښه بل هېواد ته اړول کېدل. ما هره ورځ خپل لنډکي یادداشتونه لیکل، خو د لیکلو له پاره زما ستونزه د قلم او کاغذ نه شتون و. کیسه یې اوږده ده او ما یو ځل خپره کړې هم ده.**

**څو ورځې مخکې له کاناډا ښځه زموږ د هغه وخت د لارې یو ملګري تیلیفون راکړی و. د بنډار په ترڅ کې وپوښتلم چې:**

**«آ د چک او جرمني پر پوله مو چې لیوه او غرڅې ولیدې چې د ځپلوانو او ورونو په څېر د تپې له سر نه، د ځیلې خالي پر لور روان و او...»**

**تا خو ویلي وو چې لیکي یې، هغه دې څنګه کړل؟**

**ما د لاروړکو لارویانو لینک ور ولېږه، خو ده قناعت و نه کړ او ټینګار یې کاوه چې زه یوازې د هماغې صحنې انځور شوې برخه غواړم. د هغه ښاغلي په ټینګار سره «د اوښلنو سترګو یوه خاطره» یو ځل بیا خپروم.**

...له هغې سیمې نه یې چې موږ وخوځولو، هرې خوا ته به دې چې کتل تپې وې، داسې ښکلې تپې لکه لاسي چې جوړې شوې وي، دا تپې تولې په ونو پټې وې، ما له موټر نه د تپو او د هغو له پاسه د ونو ننداره کوله. دا وخت منۍ و، طبعي منۍ، نه په زوره راوړل شوې منۍ.

د ونو پاڼې تر نیمایي ډېرې زیړې او نورې شنې یا نیمه شنې وې، ما ویل ګنې دا د افغانستان خلک دي چې په دوو برخو ویشل شوي دي او جګړه سره کوي؛ خو پاڼو جګړه نه؛ مینه سره کوله. باد به چې ښوروله او یو په بل سره لګیدې؛ تا به ویل چې یو بل په غېږ کې نیسي او سره ښکلوي.

په ونو کې د زیړو پاڼو شمیر ډیر وو. باد به چې لږ په زور کې شو، ژیړه پاڼه به یې له بیخه وشکوله او ښکته به یې په ځمکه وغورځوله، خو شنې پاڼې به اوښتې را اوښتې، لکه اتڼ چې کوي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څېر و لولئ

ما ته بیا د افغانستان مظلوم ژیړ رنګي خلک را په یاد شول چې جګړه، لوږه او ویر یې څنګه ډیر ژر له پښو غورځوي او بیا تورو خاورو ته لېږدول کیږي، مګر واکداران، شتمن او ټوپکوال اتڼ کوي...

او په پای کې موږ یو بل کلي ته ورسیدو، هلته هم تپه وه... دا د برید پر کرښه پروت یو کلی و، د یوې ښکلې تپې په ښکتنی برخه کې جوړ شوی کلی. په کومه کوټه کې چې موږ د انتظار شیبې تیرولې، د بندیخانې په څیر پنجرې درلودې، د پنجرو نه لرې وړاندې د خلکو کورونه ښکاریدل، دا تپه هم په ونو پوښلې وه او د ونو پاڼې ټولې ژېړې شوې وې.

دا مهال هم مازدیګر و، هو یو بل مازدیګر. ژېړی لمر د ژیړو پاڼو پر ښکلا یوه بله اضافه وه. زړه مې غوښتل چې آزاد مارغه شم، د تپې ونو ته ور والوزم، د زیړو پاڼوسره یو وارکینم، د ستړي زړه کیسه ور ته تیره کړم خو...

هیڅ چا بل چا سره کار نه درلود، حتی هغه ښاروي چې زموږ له نظره دښمنان وو، هغوی هم یو بل ته څه نه ویل. د تپې د ونوله منځ نه یو کنډک غرڅې مخ په ښکته را رواني وې. زموږ د انتظار له خونې نه لرې وړاندې یوه ښکلې مانۍ ولاړه وه، یو لیوه ډولی غټ سپی له مانی نه ګرد چاپیره ګرځیده، ما فکر وکړ چې سپی به اوس غرڅو ته غاپي او حمله به ورباندې کوي، کټل مې چې غرڅې په نخرو او کرشمو را ښکته شوې، د سپي له څنګه تیرې شوې او...

د دې صحنې په لیدلو سره سرې داسې انګیرله چې سپی او غرڅې له پخوا نه سره دوستان وو. زما په زړه کې په ډیره نا امیدی تیر شول چې د دوی حتی ښاروي چې په څلورې روان دي، هم تفاهم او پوهاوي ته رسیدلي دي او خپلمنځي ستونزې نه لري؛ خو زموږ د وطن ځینې انسانان چې په دوو پښو روان دي او ځان ته اشرف المخلوقات هم وایي، بیا له داړونکو ښارویو نه لا زیات د نورو د وینو تویولو شوقیان او تږي دي او هره شېبه یو د بل مرګ ته چمتو او لاس په ماشه دي.

**چیرې موږ،**
**چیرې ښاروي**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ